پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۹/۱۹

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال

## پينځم توک

دوه سوه او يو اويايمه پرله پسي برخه

## کندهار

ايديت:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**ضحاک** : دا يو نړيدلی ښار دی چې جنرال نات ئې يادونه کړې ده. کيدای سي دی ښار کندهار ته نيږدې موقعيت درلود، جنرال نات د خپلې شرحې په ترڅ کې وايي چې دا يو ټينګ استحکامي او ډېر لوی ښار وو او لوی والی ئې د اوسني کندهار ښار په نيمايي اندازه وو چې لوړ حصار ئې درلود ؛ ددې حصار نښې اوس نـهٔ دي پاتې. په ۱۸۴۱ز کال کې د افغان جګړې پر مهال وراندېز وسو چې د غلزيو د خپلو لپاره دې دلته يوه پوسته جوړه سي خو هيڅکله دا کار ونـهٔ سو. «نات»

يادونه : څرګنده نـهٔ ده چې دا ځای چيرې ته دی چې دوی ئې پورته يادونه کوي.

**زوړ کاريز** : ۱۷ – ۳۱، ۳۷ – ۶۷ «ن» : لوړوالی : ۶۷۰۰ فيټه. دا يو کاريز دی چې شاو خوا ئې کرهنه سوې؛ دا کرهنه د نورزيو کاکړو ده چې د «پسين لوره» د سيند پر ښي غاړه د الا جرګې د سويل لويديځ په ۱۲ مايلی کې موقعيت لري. دلته د کمپ لپاره ځای سته او اوبـهٔ ئې له کاريز څخه دي. «بن»

**ظلم آباد** : ـ۳۱، ـ ۶۵ : دا په محله جاتو کې يو کلی دی چې د کندهار د توپخانې له دروازې دباندې واقع دی. «بيسکو»

* **زوړ متيان** [1] : ۸ – ۳۲، ۵۰ – ۶۶ «ن» : دا د زابل په ولايت کې د ترنک د سيند د يوې څانګې پر غاړې د قلات د شمال لويديځ په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

۲۰۲۲ کال د سپتمبر د مياشتي نهمه
د جمعي ورځ ۲ بجې او ۵۰ دقيقې

آتاوا کاناډا

نن د شنبې ورځ د ۲۰۲۲ز کال د اکتوبر د مياشتي ۱۵ نيټه ده او ساعت درې بجې او پينځلس دقيقې دي.
تر دې ځايه ژباړل سوی متن له انګليسي متن سره له سره پرتله او بشپړ سو. د انګليسي متن ۵۲۸ پاڼه
آتاوا کاناډا

[1] -ZURMATIAN

# ضمیمه

ستاسو «سر. ډبلیو. اچ. مکناتن» [2] د تیرې میاشتې د پنځمې نیټې د لیک په ځواب کې تاسو ته د هغو معلوماتو د وړاندې کولو ویاړ لرم چې د دراني قبیلو په اوسنیو او پخوانیو شرایطو پورې اړه لري او د هغو امتیازاتو په هکله خپل نظر وړاندې کوم چې «اعلیحضرت شاه» [قوسین د ژباړونکي دي] دوی ته ورکړي ول او هم به د بهترینه دولتي سیستم په هکله خپل نظر وړاندې کړم چې هم ممکن محتاطانه وي او هم د هغوی د راتلونکي مدیریت لپاره عملي وي.

نادر شاه «افشار – ژ» د لومړي ځل لپاره دراني قبیلې د کندهار په ګاونډ کې وموندلې. درانیانو نوموړي پادشاه ته د هغهٔ په فارسي جګړو کې ارزښتناک خدمات وکړل؛ ددغو خدماتو په بدل کې دوی ته د کندهار سیمه ډالۍ سوه، له پادشاه څخه ئې د پوځي تصدۍ له ترلاسه کولو وروسته د همدغهٔ پادشاه په وسلو کندهار له غلزیو څخه ونیوهٔ. له دې پړاو مخکې دا ځمکې د ګډو بزګرو په وسیلې کرل کیدلې چې پاړسیوان، هزاره ګان، کاکړ، بلوڅي او نور بزګران ول او په منځ کې ئې د افغان «پښتنو - ژ» ښکیلاک ګرو یوه کوچنۍ برخه وه چې ځانونه ئې له ډیرو پخوا وختونو ددې خاورې د ملکیت مستحقان بلل، دوی د غلزیو د پادشاهۍ پرمهال د خپلو ځمکو مالیات او نور اړوند مالیات په هماغه بیه ورکړل چې پخوا ئې صفوي سلاطینو ته ورکول. نادر شاه مدعي سو چې دهٔ د خپلو سوبو یا فتحو په دلیل د بزګرانو حقوق خپل ولیعهد ته لیږدولې دي نو له دې کبله نوموړی قانوناً حق لري چې دا ځمکې خپلو اړوندو پوځیانو ته ورکړي؛ خو د بزګرانو غوښتنو ته په پاملرنې سره چې ګڼې د ځمکو دا ډول خپل - سرې لیږد په دې معنی دی چې دوی ئې پر درانیانو په مرییتوب پلورلي دي، «نادر شاه – ژ» اجازه ورکړه چې د هر کلي د ګاونډ اړوند ځمکې دې د دغو ځمکو د پخوانیو څښتنانو په حق کې د دولت د مالیاتو د ټاکنې په شرط وساتل سي او دا به د درانیانو له مداخلې مستقل وي. د کندهار ځمکې له قدیم الایامه په ټوټو ویشل سوې وې چې هره ټوټه ئې د " قلبې" په نوم یادیږي، قلبه په دې معنی ده چې د ځمکې دې ټوټې ته د خړوبولو لپاره اوبهٔ ورسول سي او د یوهٔ بزګر تر لاس لاندې د یو جوړه غوایانو تر جغ لاندې دې په یوهٔ کال کې قلبه سي؛ یوه قلبه هغه دوه چند ځمکه ده چې دوه خرواره (خروار د ۱۰۰ مونډو اندازه ده او په خپله د موند په شان هر ځای توپیر کوي) غلات په کې وکرل سي، یوه نیمایي ټوټه ئې د یوهٔ فصل لپاره وکرل سي او حاصل ئې ټول سي او بله نیمایي ئې یو کال وروسته د ځمکې د قوت د ساتلو لپاره وساتل سي. خو د نادر شاه پر مهال د قلبو اندازه دوه چنده ډیره سوه – په دې معنې چې «قلبهٔ پخته» (پخه یا بشپړه "یعنی دوه چنده" قلبه) (چې په همدې نوم یعنې د قلبهٔ پخته په نوم یادیدله) د دوه وو بزګران په وسیلې کرل کیدله او د دوه وو جوړو غوایانو تر جغ لاندې قلبه کیدله؛ په دې توګه یوه قلبه هغه ځمکه سوه د څلورو خروارو غلاتو د کرل کیدلو ظرفیت ئې درلود. ددې لپاره چې نادر شاه د خپلو مالیاتي تعییناتو یا ټاکلو معیار وټاکي نو د هیواد په بیلابیلو برخو کې ئې د کرنیزو چارو متخصصان وګومارل چې د ځمکو قلبې دې په خپله وکري؛ د ځمکې په محتاطانه پالنې سره پایله دا سوه چې په اوسط ډول د یوه کرل سوي خروار پر سر ۲۵ خرواره حاصل راغی، په بله وینا له ۴ خروارو تخم څخه ۱۰۰ خرواره حاصل تر لاسه سو، نادر شاه د هرې قلبې پر سر ۱۰ خرواره ومنل او مالیه ئې ورباندې وضع کړه یعنی د اسلامي قانون له مخې د حاصل یو پر لسمه مالیه وضع سوه.

همدا شان نادر شاه د کندهار د ځمکو پر سر فارسي مالیه هم کښیښودله چې د هر باغ پر سر یوه مسي، د تاکستان پر سر ۳ مسي او د نورو وړو اقلامو پر سر معینه مالیه وټاکله.

د هر کلي په شاو خوا کې ځمکې د بزګرانو د ژوند ژواک د ملاتړ او دولت ته د مالیاتو د عاید په توګه په پام کې ونیول سوې او په جدي پاملرنې به ثبت کیدلې او د هرې ولسوالۍ مجموعي دیون د ولسوالۍ د عاید له مخې محاسبه کیدل خو د پاتې نورو ځمکو په هکله دغسې دقت ته اړتیا نـهٔ وه. د یوهٔ تقریبي تخمین له مخې د کندهار په ښار او ورڅیرمو ولسوالیو پورې اړوندې ځمکې، په ۳۰۰۰ غبرګولو قلبه ځمکو وویشل سوې او د درانیانو د بیلابیلو قبیلو په منځ کې د تیګول [3] «تیول – ژ» په توګه وویشل سوې. (تیګول «تیول – ژ» د مسلمانو هیوادونو په منځ کې د ځمکوال یا فـئوډالي سیستم د تصدۍ یا اجارې یوه معموله بڼه ده)، یعنی د سلطنتي مالیاتي عوایدو د معافیت په بدل کې تیول دارانو باید ۶۰۰۰ آسونه برابر کړي وو یا د هرې قلبې پر سر ئې باید د سپارهٔ ځواک لپاره یو جنګیالی برابر کړی وو. د ځمکو له تصاحب سره سم درانیان عموماً مؤظف سول چې د ځکمو په کرلو کې د بزګرۍ د چارو مسؤولیت په غاړه واخلي چې یا به د بزګرۍ د چارو د ناظرینو په توګه کار کوي او یا به په خپله د کارګرانو په توګه کار کوي او په دې سره ئې په عاید کې ددولت ونډه تر لاسه کوله. خو هغوی په بیلابیلو درجاتو د خپلو خلکو خپل کمپونه او کلي جوړ کړل. دوی د بزګرۍ وسایل وپیرودل او د ځمکو مدیریت او اداره ئې په خپلو لاسونو کې واخیسته او ځانونه ئې د خاورې اصیل اربابان وګڼل. له دې چې دوی د مالیاتو له ورکړې معاف ول، نو بڼونه او تاکستانونه ئې هم جوړ کړل، دا هغه ملکیتونه دي چې ستر عواید لري او عوامو به هم د دولت د شدیدې ارزونې په دلیل ورته ډیره پاملرنه نـهٔ کوله، دوی د خپلو پانګو په ډیرولو سره

---

2 - Sir W. H. Macnaghten

3 - tigul



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کوښښ وکړ چې د خپلو تیول ځمکو وضعیت په دې دلیل لا ډیر ښـهٔ کړي چې ځانونه د یوهٔ اضافه سوي محصول «باغي محصول – ژ» پر وړاندي خوندي وساتي پرته له هغې دوی د یوهٔ بل مسؤولیت په معرض کي واقع کیدل.
د سپمول سویو یا ریزف سویو قلبو د نسبت دقیق ټاکل له هغو قلبو سره چې درانیانو ته په تیول کي ورکول سوي ول آسان کار نـهٔ دی، خو زما د ځیرنو پر بنسټ چې ومي کولای سول سرته ئـي ورسوم باید ووایم چې د نادر شاه د ځمکو په هماغه اصلي یا لومړني پړاو کي «رعیتي» [4] ځمکي د درانیانو د ځمکو یو پر درییمه قلبه وي او هماغسي چې پاړسیوان افسر د سپمول سویو ځمکو سرپرستي او پازوالي په غاړه لرله د ځمکو کوچنی برخي ئـي د بومي بزګرانو لپاره د کلیو په نیږدې ګاونډ کي تر ټولو حاصلخیزه ځمکه تخصیص کړه چې په ارزښت کي کیدای سي نیمايي وو. له هغو قلبو ځخه مستقل چې په دې ډول درانیانو او بومي بزګرانو ته اختصاص سوي، نادر شاه د کندهار په بلافاصله ګاونډ کي په دولتي ځمکو کي ۵۰۰ قلبه ځمکه د «خالصه» په نوم وسپموله یا ئـي ریزرف کړه او د لوړ ارزښت ملکیتونه چې پاړسیوانو بزګرانو ته ورکړل سوي وه د «نصفک ري» [5] نصفه کاري – ژ] په نوم یادیدله، په دې سیستم کي حاصل په دوه وو برابرو برخو د بزګرانو او ددولت تر منځ ویشل کیدهٔ؛ او هغوی چې لیري ول د «سه کوټ» په سیستم کي راتلل او دولت ورځخه یوازي دریمه برخه د حاصل اخیستله، له دغـهٔ ویش مخکي به د بل کال لپاره تخم لومړی جلا سو. له دغه بیلابیل ویش وروسته د پام وړ اندازه ځمکه پاتي سوه چې نـهٔ په قلبو کي راتلله او نـهٔ په خالصه ځمکو کي، د نورو ځمکو تر څنګ دا ځمکي د کداني، ډوری د درو او د ارغسان او د ترنک د سیندونو د شاو خوا ځمکي وي او بزګران په خپل کښت و کار کي د ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو په نا مشخصي اندازي ډېره لګوله. دغسي ځمکي د «خشک آبي» (د اوبو ځمکو) په نوم یادیدلي او په ډیر محدود ډول هغو دراني قبایلو ته په تیول – قلبي ورکول کیدلي چې غوښتل ئـي د حاصل یو پر لسمه مالیه ورکړي او یا دې معادل په پیسو ورکړي او د سرتیرو د برابرولو لپاره به هیڅ ډول مسؤولیت ونـهٔ لري.
ددرانیانو له پلوه ددغسي ځمکو نیول په لومړیو کي ډیر لږ یا جزئـي ول خو د وخت په تیریدلو سره کله چې احمد شاه استقرار وموند ددغسي ځمکو نیولو ته شرایط لا مساعد سول او د بومي بزګرو په پرتله دا قبایل په دغو ټولو درو کي خپارهٔ سول او ځمکي ئـي ونیولي. د ځمکو د ویش هغه مرتبات چې ما په پورتني پاراګراف کي په تفصیل سره شرحه کړل د ځمکو د تصدی هغه بنسټ ځرګندوي چې له مخي ئـي تر نن پوري د کندهار ځمکي اداره سوي دي. خو له دې سره سره د احمد شاه د اداري پر مهال د ځمکو په دا ډول ویش کي د پام وړ اصلاحات رامنځته سول او په حقیقت کي ددهٔ تر مشرۍ لاندي د لومړي ځل لپاره دا ځمکي تر سختو او شدیدو مالیاتي جزئیاتو لاندي راغلي؛ دا تر یو مهاله د درانیانو د وضعیت د ښه کولو لپاره ول او په همدې موخي د هغو مرستو لمنه لا نوره هم وغځیدله چې مخکي دوی ته د لویو مالي مرستو له لاري اعطاء سوي وې؛ همدا شان هغـهٔ د سیمه ییزو عوایدو د امتیازاتو برابرول په پام کي ونیول او یا نورې لارې چارې ئـي ولټولې چې له دغو امتیازاتو سره برابري وکړي یا ورته، وَرته وي؛ په دې ترتیب سره احمد شاه اړ سو چې د کندهار ځمکي چې د دولت په اختیار کي وې او درانیانو ته وقف سوي وې لا سیستماتیکه کړي او دغسي یوه سیستم ته لا نوره وده ورکړي. د احمد شاه لومړنی ګام دا وو چې د درانیانو د ځمکو په هکله د نادر شاه د مهال «پخته قلبي» په دوه وو منفردو قلبو وویشلي او په دې ډول ئـي د درانیانو د تیول قلبو شمیر ئـي له ۳۰۰۰ ځخه ۶۰۰۰ قلبو ته لوړ کړ. په عین حال کي احمد شاه د هرې قلبه ځمکي پر سر د دوه وو سپرو د تجهیز مسؤولیت ته دوام ورکړل؛ خو له دې چې دا

---

4 - ryoti : توضیح : رعیت «متبادل، رعیت، رایت یا راوت، ریوت» یوه اقتصادي اصطلاح وه چې په ټول هندوستان کي د کوچنیو بزګرو لپاره د هندوستان په بیلابیلو ولایتونو کي کارول کیدله. حال دا چې «زمینداران» ځمکوال ول، او رعیت اجاره یي کار کوونکي او بزګران ول او د اجیرو کارګرانو په توګه ئـي خدمات کول.
رعیت هغـهٔ چا ته ویل کیږي چې په یوازې سر یا د هغـهٔ د کورنی یا د شریکانو له پلوه د ځمکي د ترلاسه کولو حق د کرلو په موخي ترلاسه کوي. همدا شان دا سیستم د ځای ناستي حقوقو ته هم اشاره لري. د «ریوت Ryot» کلمه له هندي اردو او د رعیت کلمه د عربي له رعیت ځخه راغلي ده او د رمي یا د «بزګرو» په معنی ژباړل سوې ده او دا په خپله د «راع» له کملي ځخه راغلي چې د پووندې په معنی ده.
د مغولو تر سیستم لاندي د رعیت دوه ډولونه ول : «خود کشته» او «پای کشته». خود کشته رعیت د کلیو دائم استوګني بزګران ول. د هندوانو او د مسلمانانو د قوانینو له مخي ددوی د ځاینانستی حقوق میراثی ول. بل ډول رعیت پای کشته ول. دوی یوه ځمکه ددائم لپاره په هرې ځانګړې ماوزې « mauza » نـهٔ کرله (ماوزه : په کلي کي د استوګن کیدلو تر څنګ تر ټولو ټیټه مالیه)، دوی به له یوې ماوزې ځخه بلي ته تلل او په حقیقت کي فصلي بزګران ول. د عاید د قضاوت له مخي پای کشته رعیت ته به د خود کشته د رعیت په تناسب تر ټولو ټیټه اجاره یا عاید ورکول کیدهٔ. پای کشته رعیت د بزګرو هغه ډلي وې چې د خپلو استوګنو له سیمو ځخه لیرې به ئـي ځمکي کرلي. [ سرچینه ویکي پیدیا] - ژباړونکی

5 - Nisfakri


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دواړه سیستمونه باید یو بل ته آساني رامنځته کړي وي نو د درانیانو د ځمکو تصدي په دې تفاهم سره پاتې سو چې دواړه قلبې په عین وخت کې نـهٔ سي کولای سرتیري تجهیز کړي او په دې توگه د درانیانو په ۶۰۰۰ قلبو کې د هرې قلبې پر سر د یوهٔ یوهٔ سرتیري د تجهیزولو ونډه چې په ټوله کې د کندهار د درانیانو سهیمه کیدله ومنل سوه. احمد شاه د سپرو تنخوا په فصل وار ډول او په خدمت کې د تیر سوي وخت پر بنسټ ورکوله، یوه منفرده فصل واره تنخواه به د مرستې په ډول هغه مهال ورکول کیدله کله چې پر قبیلو باندې د کال په اوږدو کې د سرتیرو د چمتو کولو غږ نـهٔ کیدهٔ او یا به خدمت ته له دریو میاشتو ډیر نـهٔ استخدامیدل.

احمد شاه په ټولو نورو مالیاتي مرتباتو کې د دراني قبایلو لپاره همدا پلویتوب قسماً له ځانه څرگند کړ. ددې لپاره چې د ځمکو په ویش کې نظم ته معادل یو شی رامنځته او قبایلو ته د معافیت د ورکړې ارزوني ته لا ځانگړی ارزښت وبخښي محراب خان ئـې د بیلابیلو ولسوالیو د سروې لپاره مقرر کړ، ددې سروې په لړ کې څرگنده سوه چې پر ۶۶۰۰ ثبت سویو قلبه ځمکو برسیره چې درانیانو ته د تیول د ځمکو په نوم ورکړل سوې وه ۴۰۰ یا ۵۰۰ نوره اضافي ځمکه هم غصب سوې وه چې بیرته د خالصه ځمکو په توگه دولت ته راوگرځول سوې او یا د رعیتي ځمکو په توگه د ځمکو د تولید یو پر لسمه مالیه وربانديې وضع سوه؛ ددغسې قلبو د ارزښت له ټاکلو او لوړولو وروسته دراني خانان ئـې له دوهمې مالیاتي ارزونې سره مخامخ کړل او دا د پوځي خدمت تنخواه وه چې هر چا خان به د خپل مقام او رتبې په تناسب په کال کې له ۱۰۰ تر ۱۰۰۰ تومانو پورې ځانگړې کوله. ددې ترڅنگ احمد شاه د خالصه ځمکو ډیری برخه چې نادر شاه دولت ته ځانگړې کړې وه دراني خانانو ته په هماغه شرط ولیږدوله چې خانان به خپله د پوځي خدمت تنخوا ورکوي. نوموړي د قبیلو تفوق د زراعت له لارې بشپړ کړ چې یا به ئـې تنخواه ورکوله او یا به ئـې په نهایت کې سلطنتي خزانې ته لیږدوله، د هرې ولسوالۍ مالیاتي ذمت د رعیتي قلبه ځمکو د مالیاتو او نورو د مالیې وړ اقلامو له مخې چې بومي بزگرانو به ورکوله محاسبه کیدله، دغسې ذمت معمولاً ددولت د کارونو د آسانولو لپاره ددراني ولس د مشر ذمت کیدهٔ چې د نقدو پیسو معادل به کیدهٔ، دا مشر ځای پر ځای د خلکو په منځ کې وو او همدغهٔ مشر د سیمه ییزو مالیاتو د نظارت دنده هم پر غاړه درلودله؛ دې کار به مشر ته مساعد فرصت په لاس ورکړ چې د خپلو پلویانو د وضعیت د ښـهٔ کولو لپاره ورڅخه کار واخلي.

خشک آبه ځمکې هم چې مخکې ئـې یادونه وسوه او نادر شاه ئـې مالیات د ځمکې د حاصل یو پر لسمه ټاکلې ول، دراني استوگنو وگړو ته د «موروثي» ځمکو په نوم عطیه سولې، ددغسې ځمکو د تملک حق په دې فرض ولاړ وو چې دوی د خپلو پلرونو وارثان دي ځکه د کندهار په ختیځو پولو کې دا هغه درې دي چې دراني قبیلې وربانديې راواوښتلې، دوی له «کوهٔ کاسا» [6] (د سلیمان غرنی لړۍ) څخه راکوز سول چې له غلزیو سره د صفوي سلاطینو د قدرت په پرځولو کې همکاري وکړي. د موروثي ځمکو مالیاتي ارزونه یا مالیه ټاکل چې احمد شاه تحمیل کړل د ځمکې د حاصل یو پر لسمه وه چې په هغـهٔ کې به د غنمو، وربشو یا وښو د یوې کوچنې اندازې برابرول په هغـهٔ حالت کې ول چې که لښکر ددوی له سیمې یا گاونډ څخه تیریدهٔ؛ او د همدغـهٔ سپک او آسانه ذمت له کبله ول چې د ترنک دره ډیر ژر د الکوزیو له پلوه ونیول سوه؛ ارغسان د بارکزیو او پوپلزیو بخت ته، او کدني او ډوره اڅکزیو او نورزیو لاس ته ولویدله او ددغو ځایونو د ځمکو یوه ډیره لړ او کوچنۍ برخه د بومي بزگرو د کښت و کار لپاره پریښودل سوه.

د ځمکې یو بل ډول هم پاتې دی چې زما پام تر اوسه ورته نه وو اوښتی. د نادر شاه له پلوه د ځمکو له ویش بلافاصله وروسته، داسې یو نظم رامنځته سو چې دا سیمه ورسره نابلده وه، بډایو او شتمنو پاړسیوانانو د کاریزونو په پرانیستلو پیل وکړ«کاریز هغه قناتونه دي چې له لوړو ځایونو څخه کوز رارسول کیږي» او هم ئـې د اوبو د بهیرونو لپاره کیندنې پیل کړې او په دې سره ئـې شاړې ځمکې حاصلخیزه کړلې او ددغو ځمکو دعوی ئـې وکړله، درانیانو هم کټ مټ د پاړسیوانانو له دې بیلگې پیروي وکړه. کله چې دغسې ځمکې تر کښت لاندې راغللې نو دا ځمکې د هغو کسانو د حسن نیت ملکیت سوې چې په دغو ځمکو ئـې مصرف کړی وو او د ملکیت دعوی ئـې وکوله. دغسې ځمکې د «نو آباد» په نوم یادې سوې او مالیه ئـې د ځمکې د حاصل د یو پر لسمه وټاکل سوه، ټولټال نقدی مالیه معمولاً د هر نهر پر سر او د اوبو د اوسط اندازې پر سر محاسبه کیدله چې د اټکل له مخې په کال کې په یوهٔ نهر کې راتلې، د اوبو ددغـهٔ اوسط له مخې چې د ځمکو د خړوبولو لپاره راتلې د ځمکې کلنی حاصل اټکل کیدهٔ. د مالیاتو دا سرچینه هم چې دائـماً مخ په ډیریدو وه د احمد شاه له پلوه د نورو مالیاتي اقلامو په شان خپلو دراني پیروانو ته د عطایاو یا د پوځي تنخوا په شان او یا اکثراً دولت ته د تیرو خدماتو د درنښت په پار تنظیم سوه. د نادر شاه پر مهال پر دراني قبایلو د ځمکو د ویش سخت گیری ته په لړ کتـني، آسانه نـهٔ ده پوه سو چې د ذمت دغه اصل پر کوم بنسټ ټاکل سوی وو، موږ نـهٔ سو کولای یوازې هرې قبیلې ته د کښت وړ تیول ځمکو اندازه و ارزو چې هره قبیله دې د سپارل سویو ځمکو په تناسب خپله د سپرو ونډه برابره کړي - ددې شرحه د احمد شاه ددولت په نظامي فهرست کې راغلې – ده. لاندنی جدول چې ما د کندهار د دفترونو له مخې استخراج کړی زما ملاحظاتو ته اشاره کوي :

---

6 - Koh -i -Kassa (in the Suliman range)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د احمد شاه پر مهال په کندهار کې د آس سپرو د ویش ونډه او تخصیصیه ځمکې :

| د دراني قبيلي نوم | | د قلبو شمير | د آسونو ونډه |
|---|---|---|---|
| پوپلزي | | ۹۶۵ ۴/۱ | ۸۰۶ |
| الکوزي | | ۱۰۵۰ | ۸۵۱ |
| بارکزي | | ۱۰۱۸ ۲/۱ | ۹۰۷ |
| علي زي | | ۶۶۱ ۴/۳ | ۸۱۹ |
| نورزي | | ۸۶۸ ۲/۱ | ۱۱۶۹ |
| اسحق زي | | ۳۵۷ ۲/۱ | ۶۳۵ |
| خوګياني | | ۱۶۳ | ۴۲۳ |
| ماکي | Maki | ۱۲۱ ۲/۱ | ۱۰۰ |
| ټولټال | | ۵۲۰۶ | ۵۷۱۰ |

| غير دراني قبيلي | | | |
|---|---|---|---|
| توخي | | ۱۴ | ۱۰۶۱ |
| هوتک | | ۱۰ | ۵۰۷ |
| کاکړ | | ۵۶ | ۳۰ |
| داوي | Dawi | ۵ | ۴۵ |
| ترين | | ۲۵ | ۷۲۹ |
| بړيڅ | | | ۵۱۸ |
| ټولټال | | ۱۱۰ | ۲۸۹۰ |
| سلطنتي خدمت کاران | | | ۳۹۹۵ |
| د قلبې ټولټال ۵۳۱۶؛ د آسونو ټولټال : ۱۲۵۵۹ | | | |

په دې توګه ګورو چې د درانيانو د سپرو د ونډې شمير چې د خدمت لپاره غبر. ورباندې وسي ۶۰۰۰ دی، خو په حقيقت کې دا شمير ۵۷۱۰ دی او له ۶۰۰۰ تيول قلبو څخه چې ددې شميرې د ساتلو لپاره اختصاص سوې وه قبيلې په خپله يوازې د ۵۲۰۶ سپرو شمير تصديقوي. د اختصاصي ځمکې په شمير کې اختلاف په آسانۍ د توضيح وړ دی. د احمد شاه د عوايدو اټکل د درانيانو د هغو ۶۰۰۰ قلبه ځمکو پر بنسټ بشپړ سو چې پخوا په بيلابيلو ولسواليو کې کرل سوې وې؛ قبايل ټولې دا ځمکې چې د ناقصو اوبولګولو د برابرولو له کبله يا په بشپړ ډول او يا قسماً ناکرل سوې پاتې سوې وې رد کړلې او يوازې هماغومره ځمکه ئې ومنله چې د پوځي خدماتو د ثبت په دفتر کې ثبت او د ځمکې په تناسب ئې خپل محصول ترلاسه کاوۀ. خو د احمد شاه تر مشرۍ لاندې نـۀ دغـۀ بوديجوي کسر او نـۀ د ځمکو منظم ويش (چې الکوزيو په کې له هماغو لومړيو څخه د بلې هرې قبيلې پر بنسټ ډير امتيازات تر لاسه کول) ډيرې ښې پايلې نـۀ درلودې، دغه سلطان چې پر خپلې بومي قبيلې د تبذير تر کچې مصرف کاوۀ اعلان وکړ چې د قلبو حاصل دې په بلاعوض ډول د دراني کورنيو د ژوندو ژواک لپاره عطيه سي او پر دې عطيې برسيره هغو سپرو ته عطايا اختصاص سول چې له دۀ سره ئې د هغـۀ په پوځی کمپاينونو کې ملتيا کوله. د هغـۀ مبلغ اندازه چې احمد شاه د کلنۍ مالي مرستې په توګه يوۀ دراني سپارۀ ته وټاکله ۲۵ تومانه ول چې زمونږ د کمپنۍ له ۲۲۷ اوسنيو روپيو سره برابري کوي، د نومړو ۲۵ تومانو له شمير څخه ۱۹ تومانه ئې يا له سلطنتي خزانې څخه سپارۀ ته د ورکړې وړ ول يا د برات «ليکلی مقبوض» په توګه په اړوندې ولسوالۍ باندې وو چې ولسوالي ئې بايد ورکړي او د نورو پاتې شپږو تومانو برخه ئې د تيول قلبې پر سر د دولت د مالياتي معافيت په ارزښت کې محاسبه کيدله. په دې توګه دراني ځمکې ابتداً اسمي ذمت ته معروضه وې او د شپږو تومانو له مخې ددغـۀ ذمت اندازه ښکاري، داسې بريښي چې دا دې د اټکل له مخې جنساً ۵ خرواره غله وي او که دا ځمکه د رعيت په لاس کې وه نو دا د دولت قابل مطالبه ونډه وه.

د ځمکو د ماليو له پورتنۍ شرحې وروسته اوس په لنډيز سره هغو مالياتو اقلامو ته اشاره کوم چې احمد شاه هم پر درانيانو او هم پر رعيت ايښي ول. يوازينۍ دولتي ماليه چې بزګرانو بايد په دې شرط ورکړې وه چې دوی به د رعيتي يا دولتي ځمکې په نظارت يا کرلو کې مداخله ونـۀ کړي ۵۰ مونډه يا د ددوی په ملکيت کې د هرې "ژرندې" پر سر نيم خروار په بيه نقدې پيسې وې، او د پيسو بل ډول مالياتي ارزونه چې نوم ورباندې ايښودل سوی وو د «حق آبې» نوم وو او له هرې ژرندې څخه په هر کال کې څلور روپۍ وې، له غالۍ اوبدونکو څخه له هر يوۀ څخه درې عباسۍ وې؛ د باغونو له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

اجارو، د ختڅکیو له ځمکو او نورو څخه د حاصل پینځه سلنه، له مجیټ څخه د ۲۰ مونډو پر سر یوه عباسۍ؛ له هټیو څخه د وریجو د پاکولو لپاره ۱۴ شاهي پر هرې هټې او نور. په کورني مدیریت کې هر سپور جنګیالي اړ وو چې د ټیټ رتبې افسر د لګښت لپاره چې د «کت هودا» [7] [کد خدا – ژ] په نوم یادیدهٔ یوه عباسي یا څلور شاهي ونډه ورکړي، دا کدخدا د سل تنو سپرو پر سر ټاکل کیدهٔ او پر دې برسیره د تقریباً ۱۲ مونډو په اندازې ناڅرګنده مالیه د «میر آبي» په نوم د هرې خړوبې قلبه ځمکې پر سر چې نهرونه ئې د ارغنداب د سیند په اوبو ډکیدل او د کندهار له دښتې راتیریدل وضع کیدله. همدومره اندازه د دراني مشرانو له پلوه هم وضع او هغو کسانو ته ولیږدول سوه چې قبیلو د نهرونو د ساتنې او پالنې لپاره په کار ګومارلي ول.
هغه بدلونونه چې احمد شاه په رعیتي ځمکو کې رامنځته کړل د ډیر اهمیت وړ نـهٔ ول. پخته قلبه چې د تیول په ځمکو کې ویشل سوې وه احمد شاه اجازه ورکړه په رعیتي ځمکو کې دې راسي او حاصل دې د هماغې مخکینۍ ارزونې له مخې لس خرواره وګڼل سي او په عین وخت کې د محراب خان د سروې له مخې ئې د سپمول سویو یا ریزف سویو ځمکو اندازه ډیره زیاته کړه، د رعیتي قلبو شمیر ئې د بیلګې په توګه د ښار په شاوخوا کې له ۸۴ څخه ۲۷۴ ته لوړ کړ. همدا شان احمد شاه د «خانه دادي» [8] [ ښایي سمه بڼه ئې خانه واري وي – ژ] په نوم سرانه مالیات د هرې هغې کورنۍ پر سر ۲ روپیو ته لوړ کې چې غوښتل ئې د کندهار ځمکو ته د شپنو یا بزګرو په توګه راسي او دلته میشت سي؛ او مخکینۍ طبقه چې شمیر ئې د سیمې په آرامیدلو او ددوی رمو ته د ښو او خوندي څړځایونو په برابریدلو سره په چټکۍ مخ په ډیریدو سو احمد شاه د «سرګله» په نوم نوی مالیه وضع کړه او د هر پسـهٔ پر سر یوه شاهي، د یوهٔ غوایي پر سر څلور شاهي، پینځـهٔ شاهي د کچرې او شپږ شاهي د یوهٔ اوښ پر سر مالیه کښیښودله. د خانه دادي او سرګله له مالیاتو څخه درانیان او بومي پاړسیوان بزګران برابر معاف ول. یوازینی مالیاتي مسؤولیت چې هر ډول پایله له ځان سره لري او چې ما موندلی دا وو چې احمد شاه پر هر رعیت کلي باندې د کلي د شتمنۍ او لوی والی پر بنسټ ذمت کښیښود چې دربار ته خدمتګاران او خادمان ولیږي او په بدل کې ئې ډیره لږ تنخواه ورکول کیدله خو ددغو کسانو تدارک هم د سردارانو د مالیاتي تخفیف په محاسبه کې د نقدو پیسو معادل په پام کې نیول کیدهٔ. د مالي او پوځي سیستم په هکله د بحث په پای کې چې د احمد شاه له پلوه پلی وو غواړم دلته دا خبره زیاته کړم چې د کندهار په شمالي حد کې پرتو ولسوالیو کې چې له تیرین او دیراوټ څخه او د هغو له اړوندو متعلقه سیمو څخه جوړې دي او هلته هزاره ګان میشت دي او نـهٔ د غلزیو له پلوه کوم مستقیم تاو تریخوالي ته معروض ول او نـهٔ هم د نادر شاه په هغو عطایاوو کې دخیل ول چې نادرشاه پر درانیانو ولورولې د لومړني سدوزي پادشاه د سلطنت تر تقریباً پای پورې خپل مالیات په نقدو دولت ته ورکول او محاسبه ئې د ځمکې د حاصل یو پر لسمه کیدله او د قومي مشرانو له پلوه راټولیدله چې ددرانیانو له لاس وهنو څخه په حسادت سره ساتل سوي دي.
مخکې له دې چې په راتلونکو کلونو کې د دغو مرتباتو د بدلونونو څرک ولګوو اوس کولای سو د احمد شاه په دوره کې د درانیانو پر احساساتو او شرایطو باندې ددغو اقدماتو عملي اغیزو ته یوه کتنه وکړو. هغه مهال چې دراني قبایل د لومړي ځل لپاره خپلو نویو متصرفات ته راغلل هم د روحیې او هم له سیاسي نظره د انحطاط په شدید وضعیت کې واقع ول : دوی مجبوره سوي ول چې د نادر شاه د لښکر له صفوفو سره په دې فرض یو ځای سي چې د نادر د ځواک په بدل کې هرات وساتلی سي؛ په عین وخت کې ددوی کورنۍ نادر شاه یرغمل نیولې وې او د خپلو پاړسي پیروانو په منځ کې ئې د مریبو په توګه ویشلې وې؛ او کله چې خپله آزادي ئې تر لاسه کړه او هغه نومیدانه زړورتیا او سبعیت چې دوی د خپل اجباري خدمت په پړاو کې له ځانه څرګند کړ او د کندهار د ځمکو په ډالۍ کیدلو سره لا ډیر پاداش تر لاسه کړ، د ژوندانـهٔ په حالاتو کې یو ناڅاپي بدلون دوی د اعتدال له حد ور هاخوا ډیر خوشحاله کړل او د پاړسیوانانو پر وړاندې د تیرو رنځونو او کړاونو په یاد لرلو سره ئې د ارباب په توګه نوی موقعیت په لاس کې واخیست او له حد اکثرو لاس ته راغلو امتیازاتو څخه په استفادې سره چمتو ول چې هم خپل ځواک ته پراختیا ورکړي او هم د بومي بنوربنیانو په ځپلو کې ورڅخه کار واخلي او تر اقصی پورې خپل جرړه وغځوي. په لومړیو کې هغوی هماغه د شپانـهٔ توب خویونه او عادات درلودل د شپانـهٔ توب شرایط ورته طبیعي ول او له بزګرۍ څخه خبر نـهٔ ول او د ځمکو د محصول د ونډې په پوهیدلو سره دې ته راضي سول چې خپلو ځمکو ته بزګران استخدام کړي؛ خو له دې سره ډیر وخت لا تیر نـهٔ سو چې د تیول قلبو مدیریت ئې په خپل لاس کې واخیست او بیا ئې سترګې پر هغو راحت او حاصلخیزو ځمکو د لاسته راوړلو په هیلې نیغې کړې چې بزګرانو ته د بزګرانو د ځمکو په توګه په پام کې نیول سوې وې. د احمد شاه اقدامات چې د دراني ولس د مشر له اعتماده برخمن ول دا ول چې هر مشر دې په خپلې استوګنې سیمې یا ولسوالۍ کې بشپړه مالیاتي ارزونه وکړي او د علاقې وړ نظریاتو د تر لاسه کولو لپاره ئې ټول امکانات په لاس کې ورکړل. په زور سره د رعیت د ځمکو اخیستلو په پړاو کې له شدیدې سخت ګیرۍ وروسته رعیتوال اړ سو چې خپل ملکیت او مایملک پریږدي او یا ئې درانیانو ته «هغه

7 - Kathoda
8 - khanadadi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغوی لا تر دې دمه د ملکيت دعوی درلوده» په داسې قيمت ورخوشي کړي چې له اصلي ارزښت څخه ئـې زښت ډېر ټيټ وو او خپل استقلاليت ئـې دراني ځمکو ته د اجرتي کاګرو په توګه مبادله کړ؛ دا د احمد شاه د سلطنت له پای ته رسيدلو مخکې پيښ سول، سره له دې چې د محراب سروې د رعيتي ځمکو د ثبت ميزان ډېر لوړ کړی وو او په ظاهري مالياتي ارزونې پسې د ځمکو نوی ويش رامنځته سو خو بيا هم واقعيت دا دی چې د رعيتي قلبو له نيمايي څخه ډېر له باغونو او تاکستانونو سره يو ځای د دراني قبيلو تصرف ته وليږدول سوې. همدا لړی د نو آباد د ځمکو پر ډېری برخې هم تطبيق سوه؛ دراني مشر چې ددغو ځمکو مالياتو معافيت ئـې د ځان او د خپلو پيروانو د دستمزد لپاره کاراوۀ په خپل شدت عمل په دې فکر کې سو چې د رعيت د ځمکو بومي مالکان دې ته اړ کړي چې خپل مايملک پرېږدي او ددغو ځمکو د کرلو چارې ئـې د خپلې قبيلې بزګرو ته وليږدولې، دغو بزګرو د ځمکو د عوايدو حاصل له خپلو سرتيرو ورونو سره ويشل او ددوی مشترک مشر دوی د دولت له هر ډول مداخلې څخه خوندي ساتل. وروسته له دې چې درانيانو د شپانـۀ توب له ژوند ژواک څخه بزګري ژوند ژواک ته مخه کړه او په خپل لاس ئـې له خپلو ځمکو څخه د بزګرۍ د ګټو د ساتلو تجربه ترلاسه کړه ورپسې ئـې ليوالتيا خالصه جاتو يا "دولتي ځمکو" ته واوښتله. د احمد شاه د سلطنت په لومړيو کې دا ځمکې منحصراً د بومي بزګرو له پلوه کرل کيدلې خو د احمد شاه له مړينې مخکې ددغو ځمکو تقريباً درې پر څلورمه ماليه د درانيانو مديريت ته ليږدول سوې وه. په هغو مواردو کې چې خالصه ځمکه د درانيانو کوم مشر ته عطيه کيدله – يا د حسن نيت او يا د پخوانيو خدماتو په بدل کې ددائـم لپاره، د ځمکې محصول د قومي مشر په واک او اختيار کې وو يا د اوسني پوځي خدمت په بدل کې ورته د دولتي معافيت په ارزونې کې محاسبه کيدۀ - دداسې ځمکو کرل تل د قبيلې د مشر د قبيلې په لاس کې وو؛ او يا به هم په ندرت د درانيانو کوم قومي مشر د ځمکو د کرل کيلې لپاره حاضر سو او خپل افراد به ئـې په کر کيلې کې په کار وګومارل او بيا به ئـې له هغوی څخه ددولت لپاره د محصول يو پر دريمه برخه غوښتله. له دغو اقداماتو څخه بيلابيلې پايلې راوختلې چې د احمد شاه د سلطنت پر مهال د کښت وړ ځمکو مستقلې او ګټورې دندې – چې د تخم برابرول، د زارعتي چارو پرمخ بيول او نظارت، د اړتيا وړ د کورنيو څارويو ساتل، د حاصل تر لاسه کول ول - په ټول کندهار کې له يوې مخې په مطلق ډول د درانيانو په لاس کې وو. حال دا چې د ځمکې رښتوني لاسي يا فزيکي کارونه لکه قلبه کول، د ځمکو کرل او ځمکو ته پاملرنه او نور ټول د پاړسيوانانو او نورو رعاياو په لاس کې وو او په بدل کې به ورته ډېر ناچيزه مبلغ د روز مزد په توګه ورکول کيدۀ چې ددوی د ژوند ژواک لپاره به کافي ول. د دا ډول سيستم ليوالتيا د درانيانو د وضعيت لوړول او په هماغه تناسب د پاړسيوانانو د وضعيت راټيټول ول. اول الذکر په آسانه استقلاليت کې ژوند کاوۀ او د ژوندون ګرد چاپيره ئـې د لومړي ځل لپاره هغه ارزښتونه رامنځته سوي ول چې د لومړي ځل لپاره ئـې تجربه کول او آخرالذکر د مرييتوب درد ناکه ژوند ته راوکاږل سو او د لا نورو سختيو ګاللو ته معروض سو، که څه هم دا ډول د کار سختئ ئـې ليدلې وې خو له اوسنيو سره عادت نـۀ ول.

ما په لومړي ګام کې په لنډيز سره د قبايلو د مدني او مالي وضعيت ارزونه ځکه وکړه چې دا د ملت د ستر اکثريت پر ګټو باندې اغيزه شيندي. د احمد شاه د سلطنت پر مهال د درانيانو شمير په سختئ سره سل زرو ۱۰۰۰۰۰ کورنيو ته رسيدۀ، او د تعويضي کسانو په ګډون پوځي خدماتو ته د ۶۰۰۰ تـنـو چمتو کول يا د ۱۲۰۰۰ آسونو برابرول بايد د درانيانو په عمومي کرکتر باندې نسبتاً لږه اغيزه شيندلې وي. خو په هر حال دا کار بې اغيزې هم نـۀ وو، له يوې خوا د سپرو له پلوه د پانګې د راوړلو سيل چې يا ئـې د تنخواه او يا ئـې د لوټمارئ له لارې تر لاسه کول، د قبايلو د ځمکو د امتيازاتو لپاره يوه وسيله وګرځيدله او له بله پلوه پر خپل ځان باندې ډاډ چې له سلطان څخه ئـې څرګند ملاتړ وو دا ډول چار چلند دواړو په جمعي ډول د درانيو د آس سپرو پر شمير اغيز وکړ او اکثرو د ډاډ وړ منصوبونو ته د قومي مشرانو فردي ترجيحات ، او په امپراتورئ کې د مياشتـنـئ تنخواه تر لاسه کول، او ورسره ددوی د ټولنيز وضعيت وده او ښـۀ کيدل چې ځانونو ته ئـې د شخصيت د اعتلا لاره او چاره وموندله او له پخواني انحطاطي وضعيت څخه تدريجي صعود ته چې د کندهار د ځمکو په نيولو سره دغه وضعيت ته ننوتل ټولو دوی ته برجسته سياسي موقعيت په لاس ورکړ چې له هماغه مهاله دوی ورڅخه برخمن سول. داسې ښکاري چې احمد شاه په سختئ سره له هغه خطر څخه خبر نـۀ وو چې دولت ئـې په معرض کې واقع کيدۀ او په دې توګه ئـې د درانيانو د يوۀ ځواکمن او نسبتاً خپلواک ځواک بنسټ کښيښود. احمد شاه دراني قبائـيل د خپل سلطنت رښتونی او ذاتي قدرت ګڼـۀ او په دې باور وو چې هرڅومره چې د درانيانو ځواک او واک ډېر وي باندني تسخير ته د دۀ ابزار لاپياوړي کيږي او د پرديو د تيريو پر وړاندې به ددۀ مورچل لا ډېر خوندي وي. د احمد شاه د سلطنت پر مهال هغه باندني پوځي خدمات چې هم ډېر او هم دائـمي ول ډېر تپانده او له تهيج ډک ول، په کور دننه د امتيازاتو او بخششونو وريدل نوي او پريمانه ول، ددوی له ځمکو او کښت و کار څخه پالنه چې ددوی ډېره پاملرنه ئـې غوښتله، د پاړسيوان رعيت پر ضد د طرحو پل نيوی او د رعيت د ځمکو تملک دوی ته دومره رضايت او کاروبار پيدا کړ چې د حکومت پر ضد ئـې د فکر کولو کومه رښتونې موقع نـۀ درلوده، په دې کې دوه جزئـي پاڅونونه استثناء ول چې په ډېرئ چټکئ سره وځپل سول، له دې کبله ده چې احمد شاه د خپلو بومي قبائـيلو په هکله د خط مشې تکرار ته کوم دليل ونـۀ ليد



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چې دهٔ په لاره اچولې وه او د درانیانو تاج ئـې خپل ځایناستي ته په دې ډاډ په وصیت ورکړ چې له هغـهٔ څخه به څه په کور دننه او څه دباندې د درانیانو پر وسلو باندې د ټینګې تکیې په لرلو ملاتړ وسي.
د تیمور شاه د سلطنت پر مهال درانیانو تر یوې مودې پورې په خپلې پانګې، ځواک او شمیر کې پرله پسې پرمختګ ته دوام ورکړ. خو له کندهار څخه کابل ته د دربار رالیږدول تر یوهٔ حده د درانیانو په ضرر تمام سول خو دا تاوان ښایي له هغې لاس ته راوړنې سره تعادل ومومي چې ددوی لاسونو ته ډېر مهم جغرافیوي موقعیت په لاس ورغی. د احمد شاه د سلطنت پر مهال هزاره ګان له درانیانو سره په برابره د امپراتورۍ اتباع پیژندل کیدل او د مالیاتي ارزونې ټولې ژمنې ئـې چې ددې تابعیت تر شرط لاندې ول ترسره کړې وې. خو دوی ته تل د پردیو او مرتدینو په سترګه کتل کیدل او اوس د تیمور شاه پر مهال هزاره ګان علناً هم د ملایانو له پلوه او ددوی په ګاونډ کې د دراني قبائـیلو له پلوه غندل کیدل او د سیستماتیک تاوتریخوالي او تیري تر تبر لاندې ونیول سول او د وینو تویولو او اوږدې جګړې له پړاو وروسته هزاره ګان له دیراوټ او تیرین او له نورو بډایو او پراخو ولسوالیو څخه وایستل سول او ځمکې ئـې د نورزیو او پوپلزیو قبیلو په زور سره ونیولې. اوس ددغو ولسوالیو په هکله د عوایدو پوښتنه رامنځته کیږي؛ دولت ویل : له دې چې دا ولسوالۍ په جنګ تر لاسه سوي دي نو ددې ولسوالیو ملکیت په سلطنت پورې اړه لري نو له دې کبله نوي استوګن خلک باید په سلطنتي ځمکو پورې اړوند قوانینو ته یعنی د ځمکو د حاصل یو پر دریمې ته تابع وي، حال دا چې نوموړو قبائـیل دعوی درلوده چې دوی دا ځمکې له هزاره ګانو څخه ترلاسه کړي دي او د هغوی د ځمکو مالیه د حاصل یو پر لسمه وه او له دې چې دوی دا ځمکې د خپلو وینو په بیه ترلاسه کړي دي باید ددوی د ملکیت په توګه له مالیاتو معاف وګڼل سي. له دې چې ددغو ولسوالیو تصدي تر یوهٔ حده ښېښپانده او لړزانده وه او هم په دې دلیل چې دا سیمې د خپلو پخوانیو استوګنو وګړو تر دائـمي بریدونو لاندې وې چې د هزاره غرونو ته ئـې شا تګ کړی وو، نو سلطنتي دربار هم پرته له دې چې له خپلو امتیازاتو څخه لاس واخلي یوه منځنۍ لاره ونیوله او د هرې ولسوالۍ پر سر ئـې نقدي مالیه کښېښودله او محاسبه ئـې پرته له دې چې د دربار اوسنی امتیاز په پام کې ولري، د پخواني مالیاتي ارزونې پر بنسټ وکړه. او په دیراوټ کې د ځمکو یوه کوچنۍ برخه چې حتی د ثبت په دفتر کې د تیول ځمکه په دې موخه محاسبه سوې وه چې نورزي دې خپله د آسونو په ونډه کې د آسونو د وضعیت او پالنې د شرایطو د ښـهٔ والي لپاره په پام کې ونیسي چې د مخیکنې جدول په پام کې نیولو سره ولیدل سوه چې دا په ځانګړې توګه د نورو قبائـیلو په پرتله ورته چنداني غوره نـهٔ وه.
[د ژباړونکي یادونه : له پورتني پاراګراف وروسته راتلونکي پاراګرافونه په شمیرو پیل کیږي، او له ۱۴ څخه پیل کیږي.
داسې ښکاري چې له ۱۴ مخکې هم نور پاراګرافونه ول چې ښایي د لنډیز لپاره ایستل سوي وي. ]
۱۴ : د تیمور شاه د حکومت پاملرنه ددرانیانو عایداتی مالیاتو ته واړول سوه؛ متعدد قضایا مطرح سول چې په هغو کې د سلطنت د حقوقو مدعیات د قبائـیلو په تاوان ول. تیول قلبې یوازینی هغه ځمکې وې چې دولت رسماً د درانیانو د حق په توګه په رسمیت وپیژندلې او په بشپړ ډول له مالیاتو معاف وګڼل سوې. له بومي بزګرو څخه درانیانو ته د رعیتي قلبو د ځمکو د تصرف یا د نو آباد د ځکمو لیږد کې ټول هغه کسان او ډلې راتلل چې دا ډول ځمکې ورته انتقال سوې وې او د مالي مسؤولیت ارزونو تا د مالیې ټاکلو ته معروض وګرځول سول. د احمد شاه پر مهال دا ډول مالیات د قبیلې مشر او د هغـهٔ پیروانو ته چې ځمکې ئـې کرلې هغو ته د تنخواه په توګه بخښل کیدل. خو تیمور شاه د خپل پلار ډېر پراخ نظامي بنسټونه زښت ډېر راټیټ کړل، تیمور شاه د دغو پوځي خدماتو له انصراف وروسته نور ئـې د قومي مشرانو مدعیات ونـهٔ منل او په داسې حالاتو کې ئـې د دولت د ونډې د ترلاسه کولو لپاره ددولت مداخله او یا ئـې له اړوندو ډلو څخه د هغـهٔ د نقد معادل غوښتنه اعلان کړه. په همدې ترتیب سره د دولت عایداتي مالیه چې احمد شاه نورو ته یا په معافیت او یا د ځمکې له حاصل څخه ددولت د ونډې له اخیستلو وروسته پرې ایښې وه له دراني استوګنو څخه بیرته اخیستل کیدله، په ډېرو معدودو حالاتو کې دراني استوګنو له نوي پادشاه څخه د ځمکو د عطیـې تاییدیه ترلاسه کړه خو د یوهٔ عمومي اصل په توګه ددولت حقوق یو ځل بیا راژوندي سول او که درانیانو ددغو ځمکو کښت و کار ته غوښتل دوام ورکړي نو په هماغه ډول ورسره محاسبه کیدله چې دا ډول ځمکې پاړسیوانو بزګرو ته سپارل سوې وې. داسې ښکاري چې د تیمور شاه پام هغـې خطرناکې لیوالیتا ته اوښتی وو چې دهٔ د قومي مشرانو د ځواک د ودې د مخ نیوې لپاره د لومړي ګام په توګه پورته کړی وو، ځکه دا ځواک په قبیلو کې ورځ په ورځ مخ په ډېریدو وو. زما په باور د یوهٔ سیستماتیک او ثابت فشار راوړلو نظر ددې لامل سو چې پادشاه ئـې له درانیانو سره په خپل عام چار چلند کې تحریک کړ یا وئـې هڅاوهٔ. تیول قلبو ته تیمور شاه تر دې مهاله لاس نـهٔ وو وړړی ځکه دا یو حیاتي ټکی وو او د پلار د عظمت روحیـهٔ ئـې لا تر دې دمه فعاله وه او دا ویره وه چې د تیول ځمکو ته لاس وروړل د سلطنت د له لاسه ورکولو په معنی وه. خو تیمور شاه په هیڅ حالت کې د سپرو سرتیرو حضور او ورسره په دربار کې د درانیانو د ډېریو مشرانو ساتلو ته ظاهراً د پخواني اعتماد په شان اړتیا نـهٔ درلودله، خو په حقیقت کې د خپلو پیروانو د خوشحاله ساتلو لپاره ئـې د اسیرانو په توګه وساتل او په دې سره او خپل حکومتي ځواک ته د ګډوډۍ د رامنځته کولو د مخنیوۍ له کبله ئـې قبائـیل تر ډېرې کچې محروم کړل. همدا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شان تیمور شاه د «غلامِ شاه» [9] (سلطنتي گارد) په نوم یو پوځي بنسټ رامنځته کړ او یوازې ځو د ګوتو په شمار درانیانو ته ئـي هم په کي ځای ورکړ؛ دغه خادمان د پادشاه د ساتنې لپاره وسائل سول او ورته دومره امتیازات ورکړل سول چي د درانیانو له مالیاتي امتیازاتو او ارزونو سره یو شان ول ؛ دوی ته د ډیرو مهمو اقداماتو واک هم ورکړل سو چي د سلطنت د ساتني په چارو کي ئـي ډیره ونډه لوبوله او ورپسي د ځواک انډول د ساتلو په موخه د قبیلو د پوځي ځواک د لوړولو لپاره ئـي یو لړ لنډ مهالي ګامونه اوچت کړل؛ په دې توګه هغه خطر چي منحصراً سلطنت ته د پیښیدلو له ګواښ سره ملګر وو د لاری له سره لیرې سو.

**نوربیا**

## ۱۵ – دا نه باید ګومان وکړو چي

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

9 - Gholam -i -Shah ( "Royal Body - Guard.")



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ